۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است

# اوونیزه معارف

هفته نامه
د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۳۹ ماه سنبله سال ۱۳۹۷

سرمقاله:

## سواد مشعل راه زندگی است

علم و دانش دو بالیست که انسان می تواند با کمک آنها تا بیکران پرواز کند.ارزش هر انسان با چگونگی به کارگیری این بالها معین می شود. هر چه فهم و دانش انسان بیشتر شود، نقش رهبری او در زندگی پر رنگ تر می شود. بسیار اتفاق افتاده که با دیدن شخصی و یا صحبت کردن با کسی، به دانش وی پی برده اید. این مسأله بیانگر این نکته است که هر دانشی که انسان فرا می گیرد در رفتار و کردار او تغییرات مثبت و بزرگی وارد مینمایدازینجاست که ما به این نکته پی میبریم که علم و دانش پایه و اساس تمام خوبی ها و پیشرفت های جهان امروزی است سازمان‌آموزشی علمی و فرهنگی ملل‌متحد "یونسکو" هفدهم سنبله برابر با هشتم سپتمبر را روز جهانی سواد آموزی نام‌گذاری کرده است. چنانچه سرپرست وزارت معارف در پیام که به مناسبت روز جهانی سواد آموزی داشتند به دست آورد های وزارت معارف طی چند سال اخیر اشاره نموده گفتند: ((نهایی سازی مقرره آموزش سواد برای محبوسین، ترتیب و نهایی سازی میکانیزم جلب کمک‌های سکتور خصوصی، جلب حمایت علما، روحانیون و فرهنگیان از برنامه های سواد آموزی زنان ومردان، جلب حمایت جامعه مدنی، رسانه ها و نخبگان ورزش و هنر،ترتیب طرح استخدام آموزگاران قراردادی و انتقال تدریجی بستهای رسمی به مکاتب سوادحیاتی، ایجاد نزدیک به چهل باب آموزشگاه سوادآموزی در وزارتخانه ها و ادارات مستقل، چاپ تعداد ۱۶۳۰۰جلد کتاب آموزش ابتدایی قرآنکریم در مطبعه سوادآموزی، ثبت و نشر ده ها درس تلویزیونی، ایجاد حدود ۵۰ باب آموزشگاه سوادآموزی رضاکارانه، تطبیق برنامه سواد آموزی توسط... ص۲

پاتې ۲ مخ

## ننګرهار کې پر دوه ښوونځیو برید شوی

پاتې ۲ مخ

## ښوونځیو ته د خپلو اولادونو په استولو کې د کندهار د قومي مشرانو ژمنه

## پروان کې د تجربوي لیسې نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د پروان ولایت د محمد عثمان خان تجربوي لیسې نوې جوړه شوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د والي فضل الدین عیار، د پوهنې رییس عبدالظهور حکیم او یو شمېر نورو سیمه ییزو چارواکو لخوا ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه .

یاده ودانۍ د فرانسې په مالي مرسته د افرن موسسې له لوري په پاخه او سټنډرډ ډول جوړه شوې، چې شاوخوا ۱۳۰ زره امریکایي ډالره لګښت پرې راغلی دی. د تجربوي لیسې نوې ودانۍ ۱۲ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې او نورې اړوندې ټولې ښوونیزې آسانتیاوې لري .

د پروان د پوهنې رییس عبدالظهور حکیم د یادې ودانۍ په پرانیست غونډه کې د ښوونځي له ښوونکو، زده کوونکو او د سیمې له اوسېدونکو وغوښتل، چې د ودانۍ ساتنې ته ځانګړې پاملرنه وکړي. د نوموړي په خبره، چې ددې ولایت د پوهنې پر وړاندې د شته ستونزو او مشکلاتو د حل لپاره یې جدي هلې ځلې روانې کړي او هڅه کوي، چې د پوهنې وزارت او ولایتي اداري په مرسته په یاده برخه کې مهم پروګرامونه عملي کړي .

د پروان والي ښاغلي فضل الدین عیار هم د محمد عثمان خان تجربوي لیسې د نوې ودانۍ د پرانیستو له امله ښوونکو، زده کوونکو او د سیمې اوسېدونکو ته مبارکي وویله او هیله یې وښوده، چې ددې ولایت د پوهنې په برخه کې د پلان شویو پروګرامونو له عملي کېدو سره به موجوده ستونزې او ننګونې تر یوه بریده هوارې شي.

# پیام دکتور محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف به مناسبت روز بین المللی سواد



از طرف هیات رهبری و کارمندان وزارت معارف افغانستان،روز جهانی سوادرابه شهروندان عزیز کشورم دوستداران معارف، استادان فرهیخته، دانش آموزان ارجمند و به ویژه دست اندرکاران معینیت سواد آموزی که سالهاست برای با سواد ساختن مردم زحمت می کشند، تبریک و تهنیت عرض می کنم .

سازمان‌آموزشی علمی و فرهنگی ملل‌متحد "یونسکو" هفدهم سنبله برابر با هشتم سپتمبر را روز جهانی سواد آموزی نام‌گذاری کرده است.این روز همه ساله در افغانستان در حالی بزرگداشت می شود که شماری از شهروندان ما در پی فقر اقتصادی و ده ها عامل دیگر از نعمت سواد محروم مانده اند. اما ما بیشتر از دیگران به اهمیت سواد آموزی واقف هستیم و فراگیری دانش و مبارزه... ص۲

## تعمیر جدید نسوان ظفر احمد شهید گشایش یافت



تعمیر جدید مکتب ظفر احمد شهید در کاپیسا طی محفلی افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

در محفل افتتاح مکتب مذکور عزیز الرحمن تواب معاون والی کاپیسا تعلیم و تربیه را یک نیاز مهم و مبرم جامعه بشری دانست و از مردم این ولایت خواست تا در شمولیت فرزندان شان به مکتب به خصوص دختران مبادرت ورزند.

عبدالعلیم عیار رئیس معارف این ولایت از افتتاح تعمیر جدید مکتب ظفر احمد شهید اظهار خورسندی نمود و از محترم سید محسن خان ودان که زمین مکتب متذکره را به اختیار معارف گذاشته است قدردانی کرد.

به گفته آقای عیار تعمیر جدید این مکتب دارای ۱۲ صنف درسی، اتاق های اداری و سایر سهولت ها می باشد که بصورت پخته و اساسی در دو طبقه اعمار گردیده و حدود ۲۲۳ هزار دالر امریکایی هزینه برداشته که از سوی کشور کوریا تمویل گردیده است.

وی همچنان از شاگردان این مکتب خواست تا در حفظ و نگهداشت تعمیر مکتب و سایر تجهیزات آن توجه جدی نمایند.

قابل تذکر است که با اعمار این مکتب زمینه فراگیری علم برای اضافه از ۷۵۰ تن دختران فراهم گردیده است.

بالمقابل اهالی منطقه نیز با اشاره به سال معارف وعده هر گونه کمک و همکاری شان را به معارف اعلام داشتند.

بقیه صفحه ٤

### مشکلات خود را بدون هراس با پدر معنوی تان درمیان بگذارید



بقیه صفحه ٤

### د ښوونکو د ظرفیتونو په لوړولو کې د GIZ موسسې همکاري



بقیه صفحه ٤

### سعودي عربستان د افغانستان له معارف سره د همکارۍ ژمنه وکړه



## امضای قرار داد ساخت یک باب تعمیر برای مکتب نمبر ۲ در شهر ایبک

قرار داد ساخت یک باب تعمیر برای مکتب نمبر ۲ در شهر ایبک مرکز سمنگان و تفاهم نامه همکاری میان ریاست معارف این ولایت و مؤسسه ووسف به امضا رسید.

بر اساس این تفاهم نامه درمطابقت با نقشه وزارت معارف یک باب تعمیر که دارای ۱۶ صنف درسی، سالون کنفرانس و ۶ اتاق اداری می باشد در کنار تعمیر سابق مکتب نمبر ۲ در دو طبقه اعمار خواهد شد.

هم چنان بر بنیاد این تفاهم نامه کار ترمیم تعمیر پیشین لیسه نمبر ۲ نیز آغاز گردیده و این تعمیر به گونه اساسی رنگمالی خواهد شد.

کانکریت پیاده روهای صحن مکتب و ساخت میدان های ورزشی، آماده ساختن تجهیزات و لوازم درسی ، لابراتوارها و کتاب‌خانه ها برای دانش آموزان این مکاتب نیز از میان برنامه‌هایی است که بر اساس این تفاهمنامه مؤسسه ووسف مسوولیت تطبیق آن را به عهده گرفته است.

## سرمقاله:

# سواد مشعل راه ...

ملاامامان،معلمین مکاتب رسمی در بدل حق الزحمه، ادارات دولتی، ارگان های امنیتی (اردوی ملی، پولیس، امنیت ملی) و همچنان معلمین رضا کار، موسسات غیر دولتی و محابس و ده ها برنامۀ دیگر از عمده ترین دستاورد ها و فعالیت های وزارت معارف در امر با سواد سازی مردم در کشور می باشد.هم اکنون، در سراسر افغانستان۱۶۶۹۷ کورس سواد آموزی فعال است و جمعاً به تعداد ۳۴۶۵۶۴ تن سواد آموز که ۱۹۶۱۳۸ تن آنان را بانوان تشکیل می دهند در این کورس ها مصروف فراگیری سواد اند.)) وزارت معارف به این پیشرفت اکتفا نکرده در راستای محو بیسوادی درکشور تلاش های خود را باکوشش هر چه بیشترادامه داده تا مردم ما از شر این پدیده شوم نجات پیدا کنند. وزارت معارف از قشر روشنفکر، جامعه عالمان دین ،اشخاص و افراد با رسوخ جامعه میطلبد که در محو بیسوادی در کشور با وزارت معارف همنوا شده منحیث یک فرد موثر جامعه آنعده از افراد و اشخاص که ازین نعمت الهی به دور مانده اند، با بیان فواید سواد به ایشان آنها را شامل کورس های سواد آموزی نموده و یا خود اهتمام آموختن به ایشان را بدوش بیگیرند در آن صورت دیری نخواهد گذشت که کشور ما از شر مرض بیسوادی نجات پیدا کرده و شاهد ترقی و پیشرفت کشور ما در آینده نه چندان دور خواهیم بود.

بقیه صفحه اول

# پیام دکتور محمد ...

با جهل و نادانی را دستوری از اوامر الهی می دانیم؛ زیراسوادآموزی ریشۀ عمیق در هنجارهای دینی و ملی ما دارد. نزول نخستین آیت مبارک قرآنکریم به پیامبر بزرگوار اسلام" اقرأ باسم ربک الذی خلق " ، نشان می دهد که دین مبین اسلام بر فراگیری سواد تاکید کرده است. من و همکارانم در وزارت معارف در حالی که روز بین المللی سواد را گرامی می دارد، خود را متعهد و همگام با جامعۀ جهانی به ویژه با سازمان آموزشی، علمی و فرهنگی ملل متحد می دانیم با قوت و تلاش بیشتر در برابر بی سوادی در کشور مبارزه نموده و متعهد هستیم تا امسال و در جریان سال های آینده رقم زیادی از هموطنان خود را که بی سواد مانده اند، با سواد بسازیم.

خداوند بزرگ را سپاس‌گزارم که امروز در شرایطی این روز را تجلیل می نماییم که دستاوردهای وزارت معارف بخصوص معنیت سوادآموزی این وزارت قابل توجه و ارزشمند است.

وزارت معارف جمهوری اسلامی افغانستان به اساس هدایت رهبری حکومت وحدت ملی به هدف ریشه کن ساختن بی سوادی در کشور ، طرح و استراتیژی جامع، علمی و عملی را ترتیب، تهیه و نهایی نموده است که تطبیق این طرح می تواند مارا در جهت محو بی سوادی یاری برساند. در حال حاضر معینیت سواد آموزی وزارت معارف حدود پنجاه تفاهم نامه های همکاری را با وزارت ها و ادارات مستقل دولتی امضا نموده است که براساس این تفاهم نامه ها، وزارت ها و ادارات مستقل دولتی مکلف اند با همکاری وزارت معارف بی سوادی را در نهادهای خود کاهش دهند. سهیم سازی مردم محل برنامۀ دیگری این وزارت است که براساس آن در سطح روستا ها کمیته های سواد ایجاد و تا اکنون در چندین ولایت به گونۀ آزمایشی تطبیق شده که دستاورد خوبی نیز از آن حاصل شده است .

به همین ترتیب، نهایی سازی مقرره آموزش سواد برای محبوسین، ترتیب و نهایی سازی میکانیزم جلب کمک‌های سکتور خصوصی، جلب حمایت علما، روحانیون و فرهنگیان از برنامه های سواد آموزی برای زنان ومردان، جلب حمایت جامعه مدنی، رسانه ها و نخبگان ورزش و هنر،ترتیب طرح استخدام آموزگاران قراردادی و انتقال تدریجی بستهای رسمی به مکاتب سوادحیاتی، ایجاد نزدیک به چهل باب آموزشگاه سوادآموزی در وزارتخانه ها و ادارات مستقل، چاپ تعداد ۱۶۳۰۰جلد کتاب آموزش ابتدایی قرآنکریم در مطبعه سوادآموزی، ثبت و نشر ده ها درس تلویزیونی، ایجاد حدود ۵۰ باب آموزشگاه سوادآموزی رضاکارانه، تطبیق برنامه سوادآموزی توسط ملاامامان،معلمین مکاتب رسمی در بدل حق الزحمه، ادارات دولتی، ارگان های امنیتی )اردوی ملی، پولیس، امنیت ملی) و همچنان معلمین رضا کار، موسسات غیر دولتی و محابس و ده ها برنامۀ دیگر از عمده ترین دستاورد ها و فعالیت های وزارت معارف در امر با سواد سازی مردم در کشور می باشد.

هم اکنون، در سراسر افغانستان۱۶۶۹۷ کورس سواد آموزی فعالاست و جمعاً به تعداد ۳۴۶۵۶۴ تن سواد آموز که ۱۹۶۱۳۸ تن آنان را بانوان تشکیل می دهند در این کورس ها مصروف فراگیری سواد اند. در اینجا ضمن تأکید بر ضرورت همکاری همه‌جانبۀ تمام بخش ها و ادارات دولتی، سازمان ها، موسسات و انجوهای داخلی و خارجی، از زحمات همکاران عزیز، کارکنان و آموزگارانگرامی بخصوص از سازمان‌آموزشی،علمی و فرهنگی ملل‌متحد "یونسکو"تشکر و قدردانی می‌نمایم و برای تمام دست اندرکاران عرصه آموزش از درگاه حق تعالی سلامت و توفیق روزافزون استدعا می کنم. همچنان محترم میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف طی پیام های جداگانه پیام های به مناسبت هفته شهید و دهم محرم داشتند. آقای بلخی دریاد بود از هفته شهید از قهرمانی ها و جانفشانی های قهرمان ملی کشور شهید احمد شاه مسعود به نیکی یاد کرده گفتند: شهید احمدشاه مسعود فرزند راستین دوره جهاد و مقاومت تا آخرین رمق حیات برای حفظ آزادی و دفاع از نوامیس ملی این سرزمین شجاعانه رزمید. شهید مسعود الگوی رشادت، پایمردی، غیرت ونماد تقوا بود و عاشقانه در برابر تجاوز بیگانگان به هدف تحکیم وحدت ملی و صلح سرتاسری در کشور رزمید و آزادگی و مردانگی را برای نسل های مابعد خود به ارث گذاشت. رهبری وزارت معارف به نمایندگی از تمامی کارکنان این وزارت شهادت این راد مرد بزرگ و تمامی شهدای راه آزادی، صلح، جهاد و مقاومت را به همه ملت بزرگ افغانستان تسلیت گفته و آرمان های بزرگ شان را برای تحکیم ثبات و صلح در کشور زنده نگه میدارد.همچنان آقای بلخی طی یک پیام دهم محرم را یک رویداد انسان ساز دانسته اذعان داشته اند که هیآت رهبری و کارمندان وزارت معارف فرا رسیدن دهم ماه محرم‌الحرام روزسوگواری مسلمانان جهان از بهر شهادت مظلومانه حضرت امام حسین(رض) و یاران صدیق شان را به محضر ملت مسلمان افغانستان تسلیت می گویند و خود را در عزای به ماتم نشسته‌گان حسینی شریک می دانند. نقش نهضت عاشورا که به عنوان یکی از مهمترین رویدادهای انسان‌ساز درج تاریخ مبارزات آزادی خواهی جهان اسلام شده است در احیای مجدد ارزش‌ها و باورهای اسلامی بی نهایت مهم است. وزارت معارف افغانستان خود را مکلف میداند که ارزش‌های تاریخی و رویدادهای بی مانند عدالت‌خواهی، ظلم ستیزی و اصلاح جامعه را به نسل‌های بعدی که سازندگان و رهبران آینده سرزمین ما اند انتقال دهد.

# باز سازی ۵ باب مکتب در ولایت کندز

سعی می کنیم تا در سال حمایت از معارف اعمار مکاتب جدید و بازسازی مکتب های موجوده را تسریع بخشیم. عبدالجبار نعیمی والی کندز که در مراسم پایانی کار



ترمیماتی و بازسازی پنج باب مکتب حوزه شهری سخن میگفت از تسریع روند اعمار مکاتب جدید و بازسازی مکتب های موجوده در این ولایت خبر داد. آقای نعیمی از اتمام کار ترمیماتی این مکاتب اظهار خشنودی نمود و از شاگردان خواست تا در حفظ و نگهداشت تعمیر و تجهیزات مکتب های خود تلاش نموده و در جهت بهبود و سرسبزی فضای سبز مکتب سهم فعال داشته باشند. محمد رستم احمدی رئیس معارف این ولایت هم فراهم آوری سهولت های تدریسی و موجودیت فضای سالم آموزشی را از عناصر مهم کیفیت دانسته و به خاطر جذب بیشتر شاگردان جدیدالشمول آنرا موثر خواند.به گفته وی لیسه مولوی سراج الدین، لیسه عالی شیرخان، بی بی خدیجه الکبرا (رض)، بی بی عایشه صدیقه (رض) و سه درک از جمله مکاتب است که در مدت سه ماه به ارزش ۶،۲ میلیون افغانی از بودجه انکشافی وزارت معارف بازسازی شده است.

گفتنی است که بازسازی مکاتب مذکور سهولت های سالم آموزشی را برای ۲۴ هزار متعلم که از جمله یازده هزار آنرا دختران تشکیل میدهند فراهم گردیده است.

# ښوونځيو ته د خپلو اولادونو په استولو کې...

د لومړي مخ پاتې

د کندهار د دامان او تخته پل ولسواليو قومي مشرانو له پوهنې د ملاتړ په یوه غونډه کې ژمنه وکړه، چې د یادو ولسواليو د ښوونځي سن ټول ماشومان به ښوونځيو ته استوي او په بېلابېلو برخو کې به له معارف سره هر اړخيزه مرسته او همکاري کوي.

د یاد ولایت په دامان ولسوالۍ کې د تخته پل او دامان د لسګونو قومي مشرانو په ګډون له پوهنې د ملاتړ او په ښوونځيو کې د ماشومانو د شمولیت په تړاو د عامه پوهاوي لویه غونډه جوړه شوې وه. د کندهار مرستیال والي عبدالحنان منيب او د پوهنې رييس عبدالقادر پیوستون هم د یادو ولسواليو د قومي مشرانو په غونډه کې ګډون وکړ او له هغوی یې وغوښتل، چې د یوې ښې راتلونکې په موخه خپل اولادونه ښوونځيو ته واستوي او د تېر په څېر له معارف سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

د پوهنې رييس په ځانګړي ډول د دامان له قومي مشرانو او اوسېدونکو مننه وکړه، چې له پوهنې ملاتړ کوي او په دې ولسوالۍ کې یې ټول ښوونځي د زده کوونکو پرمخ پرانيستي دي. په یاده غونډه کې قومي مشرانو د پوهنې له بهير څخه د خپل کلک ملاتړ ترڅنګ ژمنه وکړه، چې په یادو ولسواليو کې به د ښوونيز بهير د ودې او پياوړتيا لپاره خپلې هېڅ ډول هڅې دريغ نکړي او هڅه به وکړي، چې د ښوونځي سن ټول ماشومان په ځانګړي ډول نجونې ښوونځيو ته واستوي.

د غونډې په پای کې د یادو ولسواليو د پوهنې آمرينو ته د زده کوونکو لپاره برابر شوي مېزونه او څوکۍ ورکړل شوې او هم پر زده کوونکو د قرطاسيې د وېش بهير پيل شو.

# ننګرهار کې پر دوه ښوونځيو ...

د لومړي مخ پاتې

د ننګرهار ولایت په دوه بابه ښوونځيو کې د جلا چاودنو له امله د یادو ښوونځيو دوه تن ملازمين ټپيان شوي دي. دغه پېښې هغه مهال رامنځ ته شوې، چې د بهسودو ولسوالۍ د ملکه حميرا ښوونځي په محوطه کې ځای پر ځای شوی ماين وچاودېد او نامالومو وسله والو د جلال آباد ښار د بي بي حوا ښوونځي ته لاسي بم وغورځاوه.

ددغو چاودنو له امله د یادو ښوونځيو دوه تن ملازمين ټپيان شوي اما زده کوونکو او د ښوونځيو ودانيو ته کوم زيان نه دی رسېدلی.

پوهنې وزارت د یوه غير سياسي – نظامي بنسټ په توګه پر ښوونيزو مرکزونو هر ډول بريد غندي او له امنيتي ارګانونو غواړي، چې د یادو پېښو د عاملينو په پېژندلو کې جدي هلې ځلې وکړي او د قانون منګولو ته يې وسپاري. پوهنې وزارت دغه راز له ديني عالمانو، قومي مشرانو او عامو خلکو غواړي، چې د ښوونځيو امنيت ساتلو ته چې عام المنفعه تاسيسات دي؛ جدي توجه وکړي او په دې برخه کې له وزارت سره مرسته او همکاري وکړي.

## غزل

گل رحمان رحمان

غماز مې د جانان د مخ کتو ته نه پرېږدي
په خپل کلي کو څو کې ګرځېدو ته نه پرېږدي
ما ویل زه به د دیدن شاهد ګودر ته بیا ورځمه
ظالمه زمانه ادم درخو ته نه پرېږدي
عجیبه زمانه ده دینداري شوله بدله
لنګر د شهیدانو تویدو ته نه پرېږدی
په خپله یارانه کې غلامي ته رسیدلي
مومن د شیرینو لاس مچیدو ته نه پرېږدی
جاهل د کلي خان شو نازولو ته بد وایي
په شمع پتنګان ستي کیدو ته نه پرېږدي
د مینې لیوني ته یې فتوا د کفر ورکړ
شیدا د کعبې خوا کې تاویدو ته نه پرېږدی
کتاب کې مې لیدلي په ظالم به چپه کیږي
الله (ج) د ظالم عمر زیاتیدو ته نه پرېږدي

## ښوونکی

محمد اکرم وفادار

څه شو ښوونکی رهبرانو کې رهبر دی زما
د هنرمندو هنر مند عالي هنر دی زما
د ژوندانه په سختو لارو کې روزلی بشر
دې تیارو خونو ته سپوږمۍ او لکه لمر دی زما
د جهالت سره جاهد همیش ویانده ژبه
که یې تری زده کړې په ولا دوست په محشر دی زما
سپیڅلی زړه عالي افکار تاج د بشر یادیږي
دا بل څوک ندی، دی ښوونکی روڼ سحر دی زما
دا خزانه ده پټه هر څوک یې موندلی نشي
دا روښنایي ده پرې ماحول منور دی زما
نه سقراط نه افلاطون، نه ارسطو، فیلسوف
دې فیلسوفو ته تا ایښی تاج کوثر دی زما
وطن پالونکو څخه یاد به کړم جمال ابدالي
دې تاریخ ساز د ګران افغان قوم او ټبر دی زما
هر یو ښوونکي ته په لاره په ښو جارو کړم
دې وارثان دانبیاوو لال ګوهر دی زما
وایه ریښتنی بشردوسته لوړې پوړې د ژوندون
ستالار ښوونې مرغلرې پرې باور دی زما
یو (وفادار) نه چې نړۍ په دې بارورلري اوس
هریو ښوونکی دی عالم علم پرور دی زما

## خلاصون

د ژوند په لاره مل مې دی دا غم
لکه سیوری پل په پل مې دی دا غم
زمور دواړه څه عجیبه یارانه ده
کله مل وي کله غل مې دی دا غم
په فطرت کې مې د رنګ په څیر ګډ شوی
د تن خاوره کې منحل مې دی دا غم
لکه شمع ویلي کیږمه ژړیږم
لکه اور په سینه بل مې دی دا غم
یو له بله مو هیڅ نکیږی منګله
له څو خواوو خپل او خپل مې دی دا غم

رالیږونکی: ولوله

## تاریخچه جوی شیر شهر کابل

جوی شیر نام نهری بود که در جوار مسجد میرها مو قعیت داشت که در ان وقت هنوز آیین مقدس اسلام در این نیامده بود

. دوره فرمان روایی کابل شاهان و زنبورک شاه بود و دین بودایی در هر کوه وگذر آیین مطرح شمرده می شد .

کابلیان زحمتکش و پر کار از دو طرف دریای پر خروش کابل نهر های آب کشیدن که یکی از این نهر ا ز سمت غرب دریا ، درست از نزدیک دهمزنگ امروز جدا شده و از دامنه کوهی آسامایی راه خود را باز کرده و به جوار درمسال هندو ها گذر کرد .

و پاد شاهی آن زمان دختری داشت بنام سادینا که پدر برای دخترش قصر کوچکی در منطقه جوار این نهر که حالا هوتل اسمایی موقعیت دارد آباد کرده بود سادینا همواره بر لب این نهر میامد و به تماشای ماهیان سفید این نهر با صفا مینشست سادینا را عادت بر این بود که هر روز صبح یک کوزچه پر از شیر را با خود میاورد که نوله کوزچه را توسط برگ سبز می بست . سادینا شیر را در جوی می ریخت تا به این وسیله ماهیان را تغذیه کرده باشد . اهل وتبار هنود که در اطراف نهر زنده گی میکردن به پیروی از سادینا هر کدام ظرفی پر از شیر را با خود میاوردن و به جوی می ریختن و از این رو مسما به جوی شیر گردید که فعلا به همان نام یاد میشود .

ارسالی: فرملی

## د ځینو حیواناتو ځانګړتیاوې

آسپه ۳۰ او آس ۳۶ غاښونه لري
دولفینونه او پیلان په شپه او ورځ کې دوه ساعته خوب کوي
کانګرو نشي کولای په شا لاړه شي
یوازینی حیوان چې لامبو نشي وهلی اوښ دی
د ورې دسترګو کسي مستطیل ډوله دي
ځینې ژوي د خوب په وخت کې د سترګو تر څنګ غوږونه هم بندوي څو خپاره شوي غږونه یې دخوب مزاحمت ونکړي
د ږانده موږک د سترګو کسي د ستنې د سم په اندازه کوچني دي او یوازې رڼا او تیاره تشخیص کولای شي.
د دنیا ډیر ستر حیوان آبي رنګه نهنګ دی دغه حیوان ۱۰۰ فوټه یا ۳۰،۴۸ متره اوږدوالی او ۱۵۰ ټنه وزن لري نوموړی حیوان د انقراض په حال کې دی او علت یې د نهنګ د ښکاریانو بې تدبیره ښکار دی
دنړۍ ډیر لوړ حیوان زرافه ده چې لوړوالی یې ۲۰ فوټه تقریبا۶،۱ متره دی او د دوه چته ودانۍ له لوړوالي سره برابر دی

رالیږونکي: حسیبا

## دیوار بزرگ چین

دیوار بزرگ چین مثل دم اژدهایی پیچ در پیچ مسیر خودش را در مرزهای شمالی کشور پیش گرفته است. دیوار بزرگ چین همانطور که از اسمش معلوم است از شگفتی های معماری ست و اغلب به عنوان یکی از بزرگ ترین عجایب سازه دست بشر نام برده می شود. قدمت دیوار بزرگ چین به بیش از ۲ هزار سال قبل برمی گردد زمانی که چین هنوز حتی کشوری متحد هم نشده بود. اما این دیوار فقط یک دیوار بزرگ نیست و در واقع مجموعه ای از دیوارها و قلعه هاست. این دیوار به خاطر اهمیت تاریخی و فرهنگی ای که داشته در سال ۱۹۸۷ در لیست میراث جهانی یونسکوقرار گرفت امروزه این دیوار ۳۷۰۰کیلو متر طول دارد و ارتفاع آن به ۱۰ متر میرسد این دیوار از خاک سنگ و چوب استفاده شده برای ساختن ای دیوار در حدود ۳۰۰ هزار سرباز ، زندانی ها و رعیت به کار گرفته شده بودند و صد ها هزار نفر از مردان در هنگام کار بر روی دیوار جان های خود را از دست دادند چون مجبور بودند که مصالع سنگین را بر روی پشت خود بالای کوه حمل کنند و بیشترین کار ی که در قدیمی ترین بخش های دیوار بزرگ انجام شده با دست بود و بهترین زمان برای دیدن دیوار بزرگ چین هفته های او ل ماه می و اکتبر است که هوای مناسب و مرطوب را دارا میباشد.

ارسالی: عابده

## نخلِ سرما خرده

قلم در پنجۀ من نخلِ سرما خرده را ماند
دوات از خشک مغزی ها دهانِ مرده را ماند

نه پیوندی به دیروزی نه امیدی به فردائی
دل بی حاصل من شهر طوفان برده را ماند

تکانی هم نخورد از آهِ آتشبارِ مظلومان
دلِ سختِ ستمگر سنگِ پیکان خورده را ماند

گل عشقم که بود از نوبهار آرزو خندان
کنون در پای جانان غنچۀ پژمرده را ماند

سر بیدرد کز شتور تمنا نیستش بهره
بشاخ زندگانی میتتوۀ افسرده را ماند

ز بس در هر چه دیدم داشت رنگِ رنج و آزاری
جهان در چشم من یکسر دل آزرده را ماند

ارسالی: نجیم

## کیږدۍ

هلته د وچ ډاګ په لمنه باندې
د منې باد ته یوه کیږدۍ رپیږي
په دې کیږدۍ کې یوه رنځوره ښځه
اوربلوي او له دردو ژړیږي
د کمیسه له ترازو څخه یې
د بې پنا صورت پوستکی ښکاري
د وجود غوښه یې رنځو خوړلې
په هر اندام کې یې هډوکې ښکاري
یو ډنګر سپی ګرد له کیږدیه ګرزي
یوه زړه او ښه په اغزیو چوده
د خاورو دوړو کاروانونه روان
د مازدیګر سترګه په کینستو ده
دغه کیږدۍ دا مسا پره بیږۍ
چې لارې نغارې او مزلونه وهي
کومه خوا درومې، چیرې لاره کوي
د څه لپاره واټنونه وهي

رالیږونکي: سلطان

Weekly Marif Newspaper

A Wholesome, Balanced And Diligent Education System Guaranties The Development And Prosperity Of A Country



Established 2002, Issue No 236, Month – July- August 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

## مشکلات خود را بدون هراس با پدر...

بقیه صفحه اول

محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف به سلسله دیدارها از مکاتب کشور از لیسه عاشقان و عارفان، متوسطه گرو بابا نانک و مستوره غوری کابل دیدن کرد.

آقای بلخی خطاب به شاگردان گفت که نه به عنوان وزیر، بلکه می توانید به عنوان پدر معنوی خود بدون داشتن هرگونه هراس مشکلات خود را با من در میان بگذارید.

سرپرست وزارت معارف از معلمان این مکاتب خواست تا در راستای تعلیم و تربیه فرزندان افغانستان تلاش به خرچ دهند.

به گفته آقای بلخی مسوولیت وزارت معارف است تا کودکان و نوجوانان افغانستان را از لحاظ تعلیم و تربیه افرادی کارا و مطابق به معیارهای روز تربیت کرده و نیز بسترهای مناسب و مصؤون را برای رشد و بالندگی آنان فراهم نماید.



آقای بلخی به مشکلات معلمان این مکاتب نیز گوش فرا داد و وعده سپرد که در راه فراهم ساختن سهولت های زندگی برای معلمان کشور از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نخواهد کرد.

آقای بلخی به هدف آگاه شدن از مشکلات دانش آموزان و معلمان، رسیده گی بهتر به وضعیت تعلیم و تربیه و ایجاد سهولت برای اهل معارف با رهبری این وزارت به شکل هفته وار از مکاتب مرکز و ولایات کشور دیدن می کند.

## کندهار کې له پوهنې د ملاتړ لویه غونډه جوړه شوه

کندهار کې د نوي ښوونيز کال له پيل سره سم هڅې روانې دي، چې د ديني عالمانو، قومي مشرانو او عامو خلکو په ملاتړ د بندو ښوونځيو شمېر صفر او د ښوونځي سن ټول ماشومان په ځانګړي ډول نجونې ښوونځيو کې شاملې شي. په همدې تړاو د ياد ولايت د غونډو په تالار کې د لسګونه ديني عالمانو، قومي مشرانو، ښوونکو، مدني فعالانو او يو شمېر سيمه ييزو چارواکو په ګډون له پوهنې د ملاتړ لويه غونډه جوړه شوې وه. د غونډې ګډونوالو په يوه خوله ژمنه وکړه، چې په دې ولايت کې به د پوهنې د ودې او پرمختګ لپاره ګډ کار کوي او په خپلو سيمو کې به ولس ته د علم او پوهې د ارزښت په تړاو مالومات ورکړي او ترڅنګ به يې هڅوی وهڅوي، چې خپل اولادونه په ځانګړي ډول نجونې ښوونځيو ته واستوي. د کندهار د پوهنې رييس عبدالقادر پيوستون يادې غونډې ته د خپلو خبرو پرمهال له ولس وغوښتل، چې په بېلابېلو برخو په ځانګړي ډول د بندو ښوونځيو په خلاصون او د ښوونځي سن ماشومانو په شموليت کې له دوی سره مرسته او همکاري وکړي. روان ۱۳۹۷ کال چې د ولسمشر محمد اشرف غني له لوري له پوهنې د ملاتړ کال نومول شوی د هېواد په ګرمو ولايتونو کې د روانې وږي مياشتې په ۱۵ مه نېټه پيل شوي او د ديني عالمانو، قومي مشرانو او ولس په ملاتړ پکې جدي هڅې روانې دي، چې د بندو ښوونځيو بيا پرانېستو ته زمينه برابره کړي.

## سعودي عربستان د افغانستان له معارف...

د لومړي مخ پاتې

په کابل کې د سعودي عربستان سفير جاسم محمد الخالد د پوهنې له سرپرست وزير ښاغلي ډاکټر محمد ميرويس بلخي سره په ليدنه کې ژمنه وکړه، چې هېواد يې د افغانستان له معارف سره هر ډول مرستې او همکارۍ ته چمتو دی. په دې ليدنه کې د پوهنې سرپرست



وزير د افغانستان د ښوونيز نظام د وضعيت په اړه د سعودي عربستان سفير ته هر اړخيز مالومات ورکړل. ښاغلي بلخي د درسي ټولګيو او د ښوونځيو لپاره د نويو ودانيو د کمښت ستونزه ياده کړه او هيله يې وښوده، چې ياد هېواد په دې برخه کې د افغانستان د پوهنې وزارت سره همکاري وکړي.

د سعودي عربستان سفير جاسم محمدالخالد په دې ليدنه کې يادونه وکړه، چې هېواد يې منلې د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې ۱۰۰ بابه ښوونځيو ته نوې ودانۍ جوړې کړي. نوموړي د پوهنې له سرپرست وزير سره په دې برخه کې د اجرااتو او پرمختګونو په اړه خبرې اترې وکړې.

ښاغلي بلخي دغه راز له ښوونځي د لرې پاتې ۳،۷ ميليون ماشومانو د شموليت او د ښوونکو دظرفيتونو د لوړولو په تړاو د هلو ځلو يادونه وکړه او له ښاغلي خالد يې وغوښتل، چې افغان ځوانانو ته په بېلابېلو څانګو کې تحصيلي بورسې ورکړي.

د ليدنې په پای کې د پوهنې سرپرست وزير محمد ميرويس بلخي د سعودي د سفير هغې بلنې ته، چې سعودي ته سفر وکړي او د هغه هېواد د پوهنې له وزير سره ملاقات وکړي؛ مثبت ځواب ووايه.

## د ښوونکو د ظرفيتونو په لوړولو کې...

د لومړي مخ پاتې

د آلمان GIZ موسسې له پوهنې وزارت سره ژمنه وکړه، چې په را تلونکي مالي کال کې به د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو کې د ښوونکو د ظرفيتونو په لوړولو کې همکاري وکړي.

د پوهنې وزارت سرپرست ښاغلي ډاکټر محمد ميرويس بلخي د يادې موسسې له استازي Goepfrt Diter سره په ليدنه کې د ښوونکو د ظرفيتونو



د لوړولو په برخه کې د GIZ له همکارۍ مننه وکړه او د هغو پروګرامو د تسريع غوښتونکی شو، چې د يادې موسسې له لوري عملي کېږي.

د پوهنې سرپرست وزير دغه راز د ښوونيز نصاب د بيا کتنې په برخه کې د نړيوالو متخصصينو د ګمارنې وړانديز هم وکړ، چې د يادې موسسې د استازي له لوري ومنل شو او په دې برخه کې يې د همکارۍ ژمنه وکړه.

د GIZ موسسې تر دې وړاندې د افغانستان په پنځو شمالي ولايتونو کې د ښوونکو د ظرفيتونو لوړولو پروګرام پلی کړی او په پام کې ده، چې ننګرهار او کندهار هم ددې پروګرام تر پوښښ لاندې راشي.

## د پوهنې سرپرست وزير د بغلان له يو شمېر مشرانو سره وليدل

د پوهنې سرپرست وزير د بغلان له يو شمېر مشرانو سره په ليدنه کې د معارف پر متوازنې پياوړتيا ټينګار وکړ

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد ميرويس بلخي د بغلان ولايت د نهرين ولسوالۍ له يو شمېر قومي مشرانو سره



په ليدنه کې د پوهنې نظام پر متوازنې ودې او پياوړتيا د ټينګار ترڅنګ ژمنه وکړه، چې په ټول هېواد کې به د معارف د پرمختګ لپاره جدي هلې ځلې وکړي.

ښاغلي بلخي له پوهنې د ملاتړ کال په ترخ کې له معارف سره د نهرين ولسوالۍ د خلکو او قومي مشرانو له همکارۍ مننه وکړه او ډاډ يې ورکړ، چې په دې ولسوالۍ کې به د پوهنې اړوند موجودو ستونزو ته تر خپلې وسې رسيدګي وکړي.

وروسته يادو مشرانو د پوهنې له سرپرست وزير سره خپلې ستونزې او مشکلات شريک کړل او له نوموړي يې وغوښتل، چې د دوی د ستونزو حل ته جدي پاملرنه وکړي. د نهرين قومي مشرانو دغه راز ژمنه وکړه، چې په دې ولسوالۍ کې به د پوهنې اړوند پروګرامونو عملي کېدو ته زمينه برابره کړي او چا ته به اجازه ورنکړي، چې د معارف پر وړاندې خنډ وګرځي.

مسوول مدير: محمد نسيم "عياذ"

کتنپلاوي: محمد کبير حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار

خبريال: - محمد طائب عمري - محمد اشرف رسولي

کمپوز او ډيزاين بريالی رحمانزی

شمېر: ۵۰۰۰

ديجيتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ايميل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رياست، د پوهنې اوونيزې مديريت